مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۴

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اتیاپمه برخه)

### جنرال عبدالحق علومي

د سویلي زون آمر. په ۱۹۸۶ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې د عدل او دفاع د څانگې مسؤول.

### عبدالکریم علومي

بارکزی دئ. ر د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د قاضي القضاة قاضي سعدالدین خان زوی دئ. د ۱۹۰۳ز کال د فبرورۍ له میاشتې د ۱۹۰۵ز کال تر لومړیو پورې د جلال آباد نائب الحکومه وو چې د کابل ته وغوښتل سو او زندان ته واچول سو. په پای کې نوموړی په کابل کې د معارف سرمُفتـش مقرر سو. په ۱۹۱۴ز کال کې د هزاره جاتو والي وگومارل سو. په ۱۹۱۷ز کال کې بیکار وو. په ۱۹۱۹ز کال کې په کندهار کې وو. په ۱۹۲۱ز کال کې ورته د ملکي بریگیډییر رتبه ورکړل سوه او د غزني د حاکم / والي په توگه مقرر سو. د ۱۹۲۲ز کال د جنورۍ په میاشت کې د مشرقي د ولایت والي سو. په ۱۹۲۳ز کال کې د تورکستان حاکم سو. د ۱۹۲۸ز کال په نوامبر کې د کندهار حاکم. د ۱۹۲۹ز کال د مارچ په میاشت کې هزاره جات ته لاړ او د هزاره گانو له منځه ئـې یو ځواک جوړ کړ. د ۱۹۳۲ز کال په پسرلي کې کابل ته راستون سو او په تعلیقي حبس په کور کې نظربند کېښـنول سو. د ۱۹۳۳ز کال د مارچ په میاشت کې آزاد سو او جایداد او شتمني ئـې ورته بـېرته اعاده سوه. په ۱۹۴۸ز کال کې وفات سو. د عبدالواحد کریم نیـکـهٔ دی.

### لعل محمد علومي

د علومي د کورنۍ غړی. په ۱۹۷۶ز کال کې د وسله وال ځواک افسر او د عسکري کلوپ مسؤول وو. د ۱۹۷۸ز کال کې د مي په میاشت کې د کورنیو چارو د وزارت د کابل ولایت د پولیسو بولندوی. په ۱۹۸۲ز کال کې له مجاهدینو سره د جگړې په لړ کې ووژل سو.

### نورالحق علومي

په ۱۹۸۵ز کال کې د کندهار ولایت د وسله وال ځواک د قول اردو بولندوی.

### ډاکټر عبدالله عمر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډاکټر محمد ناصر کشاورز ورور په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دی. په ۱۹۵۴ز کال کې ئې د طب د ډاکټرۍ د فراغت سند .M.D د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه تر لاسه کړ. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې ئې د پاریس په پوهنتون کې (سرولوژي) [1] ولوستله. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئې د (لیون) [2] په پوهنتون کې له (فراغت وروسته دنده) [3] درلوده. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي مدرس. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د عامې روغتیا د وزارت د عامې روغتیا د انستیتیوت رئیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۷۲ز کال کې په سوریه کې د روغتیا له نړۍ وال سازمان یا له WHO سره وو. د مصر په الکسندریې کې د WHO منیجر او له ۱۹۷۴ د ۱۹۷۶ز کال تر جنورۍ پورې په یمن کې د نوموړي سازمان منیجر. د ۱۹۷۶ز کال د جنورۍ په میاشت کې د عامې روغتیا وزیر. د داؤود د رژیم له نورو وزیرانو سره زندان ته واچول سو. وادهٔ ئې کړی او پینځه بچیان لري. په دري، فرانسوي او انګلیسي ژبو خبرې کوي.

**ډاکټر اکبر عمر**

(د دفاع د پخواني وزیر) جنرال محمد عمر زوی. د نجات له لیسې څخه فارغ او د (دکتورا په ګډون) خپلې لوړې زده کړې ئې په جرمني او سویټزرلند کې کړې دي. د سوداګرۍ په وزارت کې عمومي مدیر. په ۱۹۶۶ز کال کې د سوداګرۍ د وزارت مرستیال وزیر او ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د سوداګرۍ وزیر. د صالحې اعتمادي او سید هاشم میرزاد له خور سره ئې وادهٔ کړی دی.

**محمد عمر**: وګورئ : محمد عمر

**ډاکټر محمد نادر عمر**

د محمد عمر زوی او د عبدالله او ډاکټر کشاورز ورور په ۱۹۲۴زکال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له لیسې او د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. تر ۱۹۷۸ز کال پورې د طب د پوهنځي رئیس. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د طب د پوهنځي استاد. د پلچرخي د زندان زنداني. د وحدت ملي له بنسټ اېښودونکو څخه دئ.

**محمد سرور عمر**

(له ۱۹۴۱ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د افغان – امریکایي شرکت [4] د رئیس) محمد عمر زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په لیسې کې ئې زده کړې کړې دي او په ۱۹۴۱ز کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې له دولسم ټولګي څخه فارغ سوی او په ۱۹۴۵ او ۱۹۴۷ز کلونو کې د هارورډ له پوهنتون څخه د لیسانس او ماسټرۍ په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې ئې په اقتصاد کې د دکتورا د ارزونې یو کورس بشپړ کړ. په ۱۹۵۰ز کال کې د پلان جوړونې د څانګې غړی. له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د پلخمرې د نساجۍ شرکت مرستیال رئیس. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د ملي اقتصاد په وزارت کې د سوداګریزې څانګې رئیس. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۱ز کال

1 - Serology : هغه علم دی چې وینه او په وینو کې نور مایعات څېړي چې د بدن دفاعي سیستم او عفوني ناروغۍ تشیخصوي. – ژ
2 -Lyons
3 -Graduate work
4 - Afghan – American Co.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پورې د ملي بانک، د افغانستان بانک او د پښتني تجارتي بانک د ډايرکټرانو د بورډ غړی. په ۱۹۵۷ز کال کې د سواګرۍ د وزارت مرستيال وزير. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د سوداګرۍ وزير. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ښار او کور جوړونې د مرکزي اداري مشر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د (افغان ماوراى ابحار/ خارجي تجارتي شرکت) [5] رئيس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل – اروپا د ترانسپورت او په بېړۍ کې د مال لېږد د[6] د شرکت د ترانسپورت او د بېړۍ له لارې د مالونو د لېږدولو رئيس. مېرمن ئې محمدزۍ ده. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## غلام علي اميد

د ميمني د محمد عثمان خان سرخابي زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د پوهاند غلام محمد مصور (خپلوان) او شاګرد. د کابل مشهور رسام. په ۱۹۳۴ز کال کې فارغ سو. د دريو کالو لپاره ئې د کرنې په ليسې کې رسامي تدريس کړه او دوه کاله ئې د غازي په ليسې کې د رسامۍ تدريس وکړ. د کابل ننداري مرستيال مقرر سو. په ۱۹۴۵ز کال کې ميمني ته لاړ او هلته ئې د حکومت په بېلابېلو ادارو کې کار وکړ. په ۱۹۵۸ز کال کې د کابل ننداري مدير. د کابل راډيو د هنر د اداري کارمند. نوموړي د خپل هنري کار په درناوي درې مډالونه تر لاسه کړي دي؛ هنري آثار ئې عمدتاً اوبلن رنګ او پورتريت يا د مخ او څېرې انځورګري دي. همدا شان، شاعر، ممثل او ډرامه ليکونکی هم دئ.

## رحمت الله اميد

د غلام علي اميد زوی په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د حبيبيې له ليسې څخه فارغ سوی دئ. د عسکري د مکلفيت له دورې معاف سوی دئ. په ۱۹۷۰ز کال د تکزاس له حربي ښوونځي څخه فارغ سوی. د دفاع د وزارت د پروتوکول د څانګې کارمند. تر ۱۹۷۸ز کال پورې ئې د کاليفورنيا د (مانتيري) [7] د پوځي ژبې پوهنځي ته لاړ.د ۱۹۷۸ز کال د اپريل په مياشت کې کابل ته راستون سو او د پروتوکول د مدير په توګه ئې خپله دنده پيل کړه.

## عبدالرزاق اميد هروي

د حاجي محمد عمر زوی په ۱۹۲۰ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. د زده کړو له خلاصولو وروسته ئې هندوستان، ايران، عراق، لبنان او سوريې ته د سوداګرۍ لپاره سفرونه وکړل. په ۱۹۵۲ز کال کې د هرات د ادبي ټولنې د مرستيال رئيس په توګه وګومارل سو. د باختر د خبري آژانس استازی. په ۱۹۵۷ز کال کې د پارک د سينما مدير. په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل ښاروالۍ د تفتيش د څانګې غړی. د کابل د لرغونتون/ موزيم د عامه خدماتو مدير. شاعر.

**غلام محمد اور مړ** : وګورئ : اورمړ

## غلام فاروق عثمان

[5] - Afghan Overseas Commercial Co.
[6] -Kabul – Europe Transport and Shipping Co.
[7] -Military Language school, Monterey California


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

محمد زی دئ. د سردار محمد عثمان خان زوی. په ۱۹۲۶ز کال کې د (افغان شفري کود) [8] په دیپارتمنت کې مقرر سو. د موټرو د کمپنۍ اسیستانت منیجر. خور ئـې له حضرت میاجان مجددي سره واده کړې دئ. د ۱۹۲۸ز کال د سپتمبر په میاشت کې د اعلیحضرت امان الله خان پر مهال له خپل پلار او د شوربازار له حضرت سره ونیول سو. د ۱۹۲۸ز کال د اکتوبر په میاشت کې له زندانه آزاد سو. افغانستان ئـې پرېښود او په ۱۹۲۹ز کال کې له سردار هاشم خان سره بېرته راستون سو. څو موده وروسته د تبلیغاتي کار لپاره د مهمندو په سیمو کې استخدام سو چې د هاشم خان په ګټه تبلیغات وکړي. د ۱۹۲۹ز کال د ډسمبر په میاشت کې د کورنیو چارو د وزیر یاور مقرر سو. په ۱۹۳۰ز کال کې د ډسمبر په میاشت کې د مشرقي ولایت والي مقرر سو. د ۱۹۳۲ز کال د جنورۍ په میاشت کې ئـې د غلام محمد له لور سره واده وکړ. لومړنۍ مېرمن ئـې چې د سردار محمد عزیز خان لور او د سردار هاشم خان وریره وه څو موده مخکې وفات سوې وه او د اسمٰعیل په نوم یو زوی ورڅخه پاتې سوی وو. د ۱۹۳۲ز کال د ډسمبر په لومړۍ نېټې له جلال آباده ووت او ځای ئـې محمد قاسم خان ونیوهٔ او د کندهار والي سو. د ۱۹۳۳ز کال د جنورۍ په میاشت کې ورته د سردار اعلی لقب ورکړل سو. په ۱۹۳۵ز کال کې د هرات والي سو چې د عبدالرحیم ځای ئـې ونیوهٔ. په ۱۹۳۸ز کال کې د کندهار سرپرست والي. د کابل والي. په ۱۹۲۹ز کال کې د کورنیو چارو مرستیال وزیر.(د ژباړونکي یادونه : دلته د ۱۹۲۹ز کال ویل سوي دي چې ما ته ټاپیي تېروتنه ښکاري. ښایي ۱۹۳۹ز کال وي.) په ۱۹۴۶ز کال کې د کورنیو چارو وزیر. په ۱۹۵۸ز کال کې یو ځل بیا د جلال آباد والي مقرر سو. زوی ئـې اسحٰق عثمان په ۱۹۶۸ز کال کې د ولسي جرګې غړی سو. د (ملي اتحاد) [9] په نوم د یوهٔ ګوند د جوړولو ناکامه هڅه ئـې وکړه.

**اسحٰق عثمان**

د والي غلام فاروق عثمان زوی په ۱۹۲۷ز کال په کابل کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې ئـې تحصیلات کړي دي. د ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د محصلینو په غورځنګ کې د محمد داؤود پلوی او ملاتړی. د افغان انحصاراتو رئیس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د ولسي جرګې غړی. په پاکستان کې ژوند کوي.

**نور بیا**

## ډاکټر محمد اکرم عثمان

(د توریالي عثمان او اسحٰق عثمان ناسکه ورور) د غلام فاروق عثمان زوی په ۱۹۳۷ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[8] -Afghan Cipher Code
[9] -National Union


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ